ننګيالی بځرکی



# دتاوتريخوالي پديده د طبعت دقوانينوله مخي

دبشري ټولني په تاريخ کي تاو تريخوالی دانسانی ټولنيزجوړښت سره سم را پيل سوی دی،دلته زموږ مؤخه دتاو تر يخوالي څخه ده، چي په عامه اصطلاح ظلم ،تيری تجاوزدحقوقوغضب اوديو چاه حق خوړل دي.ډير وخت دا ظلم پرعجزو او ضعيفوکسانو کيږي ، لکه دغريبود کاردنيروڅخه ګټه اخيستل، دخانانو او سرمايدارانو ټولنيزتاو تريخوالی دتوليد پر سر،ددولتونو او حکومتونو يا حاکمانو ديکتاتوري پرټولنه او اکثريت خلکو اودهغوی وټولنيزوحقوقو ته نه پاملرنه ، پر ښځواووړو ماشومانو باندي هرنوع تيری، په حقوقي لحاظ قابل دبحث دی.

چي په همدغه سبب په ۱۹۹۹م کال کي نړيوالي ټولني دتاوتريخوالي پرضد خپل عکس العمل وښود. او ۲۵دنومبر يې دخشونت ، تاوتريخوالي نړيواله ورځ تعين کړه، چي دهغه څخه ورسته دنړی ډيري ټولني ، حکومتونه او سياسي سازمانو نه په محفلونو او ټولنيزو با نډارونوکي نوموړې ورځ نمانځي .او نوموړی نمانځ زما له نظره دبشري ټولني د مظلومو انسانانو دحقوقو د د فاع دپاره ګټور او دحمايې وړدی.دنوموړي خشونت او تاو تريخوالي په سرکي پرښځو باندي تاوتريخوالی خورا ډير او بنسټيزه موضوع ده ، چي نوموړې بده پديده نه يوازي په غريبو او بې وزلو هيوادونو کي ډيره ده بلکي؛ په سرمايداري هيوادونو او پيشرفته هيوادو کي هم دپام وړتاوتريخوالی ثبت سوی او ښځي ، ماشومان دهمدغه تاوتريخوالي په وجه دجنسي تيري ترشومو اهدافو لاندي را غلي دي.که چيري هغه کسان چي عملين دتاوتر يخوالي او تجاوزکيږي هغه ته قانوني او حقوقي جزاوي ورکول سي ممکن دهمدغه بدعمل پر لړ والي اغيزي ولري،ولي ؛ په پرمختللو هيوادو کي نوموړی خشونت او تاو تر يخوالی په داسي ډول سرته رسيږي ، چي ښځه دپيسو په بدل کي وجنسي تيري ته اماده کوي ، چي يو مثال يې موږ په عام بازار کي دښځوبې پردې کول په غټو ښارونو او کوڅو کي وينو. که چيري نوموړې ښځه ډيره سخته مجبوره نه وای زه فکر نه کوم ، چي نوموړې دي ودغه بدنامه او بدعمل ته په خپله خوښه حاضره سوې وای.همدغه بد عمل نه يوازي دا چي خشونت او تاوتريخوالی دی ؛ بلکي نوموړی عمل يو ټولنيز فساد هم بولم چي په نتيجه کې يوتعداد ناروغۍ هم را پيدا کيږي.او دټولنيز فسادسبب ګرځي.خو برسيره پردې چي ښځه ديوه مظلوم موجود په څيرتر اوسه لا هم دخپل ځان او آزاد ژوند څخه مهرومه او دنارينو دحوس ښکار ده.

ښځه دتاريخ په اوږدو کې دبيلابيلو حالتونو قربا ني اودژوند په چارو کي بې امتيازه اودنارينو ووټيز (اقتصادي) ژوند ته اړه ده.

خوددي نابرابرۍ علت په ټولنیزوجوړښتونوکي توپیر کوي. او دتاریخ په اوږدو کې هم توپیر درلود، که دبشري ټولني وتاریخ ته یو ځغلنده نظرواچو نودابه را جوته سي. چي هغه وخت چي دتولید پروسایلو زما او ستا خبره لا نه وه را منځته سوې ،ښځو په ټولنیز ژوند کي دنارینو په شان ونده درلودله اوځیني وختونه به ترنارینو هم ددوی ونده په ټولنیز وندڅو کي ډیره وو.

ښځه په لومړۍ اشترکیه دوره کي د کورمشره وه، د کورنۍ دجوړښت بنسټ ابنوونکي او په کورنۍ کي ارزښت ډیروو.

خو بیا څه وخت چي دتولید پروسایلو دنارینو واک ډیرسو بیا نو ښځو خپل توان دلاسه ورکی او دیوه جنس یا امتاع په څیر دخرید او فروش په بازارکي ارزښت د مادي شیانو او پیسو په مقابل کي تعین کیده .او دطبقاتي ژوند دلومړي اقتصادي او اجتماعي فرماسیون سره یې سم خپل واک او اختیار دلاسه ور کی او د نوموړوطبعي طبقاتي قوانینوپر بنسټ ښځه هم یوه غلامه او یوازي دنارینو دحوس او ساتیري وسیله وګرځیده.

ولي دیوه انساني اند په سالمه فضاء کي ښځه په وا قیعت کي هغه موجود دی، چي بیله ښځي څخه نه کورنۍ جوړیدای سي او نه هم انساني ژوند او محیط را منځته کیدای سي .ښځه او نرپه طبعت کي نه بیلیدونکي موجودات دي،چي ټولنیز ژوند ته ګډ مسؤلیت لري.

دنن څخه ۲۵۰۰ق م لرغونو زمانو کي سومریانو وښځوته ډیره په در نه سترګه کتل او ښځه یي درحم او عطفي سمبول ګڼله او دهمدغه نظره ښځو په ټولنیز ژوند کي ډیرمهم کارونه ترسره کول چي هغه نارینو نه سوترسره کولای.دبیلګي په توګه دکورتنظیم ، داولادونو پا لنه ، په بهر کي د محکمي او قضاوت څانګي دښځوپه لاربښوونه پرمخ بیول کیدي.ښځودسومریانوپه پیر(دوران) کي د ښاروالی په انتخاباتو کي برخه اخیستل او دښار دتنظیم چاري پر مخ بیولي ، دحسابدارۍ چاري هم دښځودنده وه دا په دي چي ښځي په حساب ورکولو کي تر نارینو صادیقي اودمسؤلیت خاونداني بلل کیدې، دکالو ګنډلواوداوبدلو په چارو کي، دتوکر جوړولو په دستګاوګي او همدغسي دپال اچولو په مهارت کي هم دښځو څخه ګټه اخیستل کیده. په دې وخت کي وښځو ته ډول ، ډول عقیده وي نومونه ورکول سوي دي.کله به یې ښځه دمځکي دمخ پریشته بلل، کله به یې دآسمان پریشته بلل ، کله به دعقل او فکرپریشته بلل کیده.سومریانو وښځو ته ډیره عقیده درلوده او ترهغه را ورسته په بابلي دولتونو کي هم وښځو ته دعدالت او انصاف دساتلو دپریښتو نومونه ور کول سوي دي.لرغوني سومري واکمنانو او بابلي دولتونو عقیده در لودله چي ښځه دخپل خصلت له مخي دزوررور ظلم پر کمزوري نه غواړي. سومري دولتونه چي تر میلاد مخکي یې واکمني درلو دله او په پیریو، پیریو یي پایښت وکی تر ټولو لرغونی تمدن وو،دښځودپاره یې په خپل وخت کي ډیري علمي ، انساني نظرې او قوانین درلو ده.او د قانون له مخي ښځه حقوق یوه ، ښوونکي او د ماشومانو دروزلو مسؤله وه.

ده نرۍ په تاریخ کي دښځو په اړونده مختلیف حالتونه لیدل سوي دي. په لومړي سرکي ښځه مورسالاره یا مورواکه وه ، خوورسته یې خپل دواک سالارۍ یامشرتوب مؤقف دلاسه ورکي او په ټولنه کي مؤقف لړسو،پوهان ددې علتونو په سرکي ؛ دتولید په پروسه کي دکار ځانګړی ویش ګڼي ،چي دکار دویش په نتیجه کي دکور دباندې کارونه ونارینو ته په برخه سوه او د کور دچاپیریال کارونه بیا دښځي په برخه سوه.ددې سرچوخت اقتصادي واک هم دنارینو په ولکه کي راغلی.نارینو درنو او فزیکي کارونوته مخه کړه او دښځودندي یوازي دکور په څلورو دیوالو نو کي محدودي سوې، داولادو نو پیژندلګلوي هم ونارینو ته ور انتقال سوه.چي تر اوسه هم دکورنۍ پیژندنه ، داولادونو پیژندنه په نارینو پوري اړه لري . نارینو ددغه مؤقف څخه بده ګټه پورته کړیده او دښځو حقوق یي تر پښو لاندي کړي دي.ښځه یي داولاد دساتني ، دهوس

ښکاراودنارینو خد متکاره ، په زور او جبرسره واده کول، کله هم پریوې ښځې باندې نوري ښځې را وستل ،وهل ټکول (تاوتریخوالی) اوداسې ډیرنور پرابلمونه دي چي پر ښځو باندي روا ګڼل سوي دي.

خو که دا ټوله ستونزې دتاریخ په اوږدو کې پرمیرمنو با ندي تیري سوي دي او یا تر او سه هم ور سره مخامخ دي، قهرمانو ښځو هم دتار یخ په اوږدو کې او هم داوس مهال دتاوتریخوالي پر ضد مبارزه کړیده. او ځانونه یې په ټولنه او اجتماع کې تثبت کړی دی.

زموږ په ګران هیواد افغانستان کې که تاریخ ته وګوروهغه وخت چي آزاد او مستقیل هیواد ملي دولتونه په افغانستان کې را منځته سوه لکه : دمیرویس نیکه یادهوتکیانو مستقیل دولت ،داحمدشاه بابامستقیل دولت او دغازي امان الله خان آزاددولت کې زموږافغاني ښځوهم د قلم په څوکه او هم دتوري پر میدان دنارینو سره په څنګ کې خپل نومونه دتاریخ په ځلانده پاڼو کې لیکلی دي . لکه : میرمن نازو انا – زرغونه انا – میرمن ملاله دامیرامان الله خان په دوران کې ۱۹۲۱م کال کې میرمن آسما ( چي د مرحوم محمود طرزي خانمه وه) او دارشاد نسوان لومړۍ جریده یې خپره کړه ،همدغه راز روح افزا هم دهمدغه وخت دآزادۍ دلاري مبارزه او دارشاد نسوان دجریدې د کتونکې ډلی غړې هم وه. او ترهغه ورسته چي بیا دښځو نهضت دتهدید او خطرسره مخامخ سو، هیواد دبیګانګانو ددسیسو ښکارسو،سکاوي دوره را منحته سوه، پرښځوباندي هرډول بندیزونه ولګیدل.... خودادوره دافغانستان په تاریخ کې دامیرامان لله خان څخه ورسته یوه مؤقت دوره وه ، ددې دورې څخه ورسته د ظاهرشاه بابا په وخت کې بیا دښځو غورځنګ را ژوندی سو اودافغانستان په ګوټ ، ګوټ کې قهرماني ښځې دعمل میدان ته را څرګندي سوې اودښځو دآزادۍ بیرغ یې اوچت کړ. په قانون کې دښځوآزادۍ ته ځای ور کړل سو.خو ورسته له هغه چي دهیواد آزادي دخطر سره مخا مخ سوه ،تاوتریخوالی هم وه یوې لوړي کچي ته اوچت سو.

دنن ورځې بشري ټولنه چي دښځودحقوقودفاع کوي دخپل یورپوټ په اساس هغه هیوادونه چي دښځو پرضد دتاوتریخوالي کچه په کښې ډیره ده دهند،سومالیا ، سوډان پاکستان او افغانستان هیوادونه دي ، چي دښځو حقونه یې تر پښو لاندي کړی دي او په دغو هیوادو کې دځان وژني پیښې ډیري ثبت سوي دي.په دغو هیوادونو کې چي دښځو ارزښت کم او د کورني تاو تریخوالي سبب کیږي ، علت یې تر ډیره حده بیسوادي ، فقراوپه قانوني لحاظ دحقوقو نه درلودل او نه پوهیدل دي.په کورنۍ کې ښځې مادي او یا د ګټي وټې کومه منبع نه لري او یوازې دنارینو پرلاس وګټواو خوړلو ته محتاجه ده نو ځکه ښځه دنارینو تر وتیزه تسلت لاندي شپې او ورځې تیروي.که په دغو هیوادو کې دښځو دپاره په تعلیم او تر بیه کې سهم ور کول سي، نو ښځه به د کار او ټولنیز ژوندپه پروسه کې هم خپل هغه سهم پیدا کړي، لکه یونارینه چي په خپل ژوند او چاپیریال کې لري. چي په دې حالت کې به دښځو احتیاج په مادي لحاظ حل سي او نور به په ټولنه کې خپل ځانته یوه برخه پیدا کي.نو په همدغه خاطرزه په ګران هیواد افغانستان کې دخپلوخوند واواجتماعي ټولنو څخه غواړم چي ترهرڅه نه مخکې په هیواد کې دښځودپاره دزده کړي ښه شرایط را منځته کړي څوهره خوردخپل ځان اودخپلونوروښځودحقونو څخه ملاتړ وکي.

دلته دبحث ډیره برخه دښځو پرضد دتاو تریخوالي موضوع سوه ، خو تاو تر یخوالی ؛ که څه هم لویه برخه یې دښځو پرضد ده خو په ټو لنیز لحاظ بیا تا وتر یخوالی په دې لاندي ډول سره پر نورو انسانانو هم را تلای سي.

لومړی : په کورنی کې تاوتریخوالی د میره اومیرمني ترمنځ ، دپلاراو اولادونو تر منځ ، دخوابني اومږورترمنځ اوداسي نور....

دوهم : دغربیانو په وړاندې تا وتریخوالی دشتمنوله خوا پرمجبورزحمتکښانو باندي ، چي نوموړی تاوتریخوالی اقتصادی اوطبقاتي ریښه لري او دحل لاره یې یوازې ټولنیز اصلاحات کیدای سي .

دریم : تاو تریخوالی پروړوماشومانوباندې،چی هغوی ته دژوند دښه شرایطودنه برېروالي په صورت کي را منځته کیږي. په کوچني عمرکي دتحطیل څخه بې برخي کیدل ، درنو کارونو ته مجبوریدل اودا سي نوري ناخوالي دي ، چی پر ماشومانو باندی دتاوتریخوالي په نوم ثبت سوي دي.

خوکه په لنډه توګه تاوتریخوالی تعریف کړو هغه به داسي وي. تاوتریخوالي پر یوه چاه ، پر یوه طبقه دخلکو ، پرسیاسي او ټولنیزو ګوندونو او ټولنو هغه وخت را منحته کیږي ، چي په روحي لحاظ او جسماني (فزیکي) لحاظ یونفر او یا یوټولنه دخلک تر تهدید او فشار لاندي را وستل سي، هغوی ته دځان ددفاع حق ور نه کول سي.او په زوره تهدید کړل سي. چي دتهدید اندازه اودرجه هم توپیر سره لري، تهدید درواني بدحالت څخه راونیسه بیا ترهغه حالته ،چي په اجتماعي مسائیلو کې دهر څه څخه مهروم کړل سي .او په ټولنه کي تنها پاته سي ، په دې حات کي نفرهم خپل عصبي سیستم دلاسه ورکوي او په ټولنه کي تنها کیږي او دلیونتوب ترکچي پوري رسیږي.همدغسي په جسمي تاوتریخوالي کي هم دانسان شخصیت تر برید لاندي را ځي او په فزیکي لحاظ وهل او ټکول کیږي او دمرګ تر کچي پوري جسماني تهدید او تاو تر یخوالی رسیږي.

لکه مخکي چي موویل ډلیز تاوتریخوالی یا ټولنیز تاوتر یخوال چي ډیر وخت دحکومتونو اوزورواکانو دخوا سرته رسیږي او نوموړی تاوتریخوالی یا په سیاسي لحاظ ،په مذهبي لحاظ، قومي او نژادي لحاظ تر سره کیږي.

تاو تر یخوالی چي په واقیعت کي طبقاتي اړخ لري دطبعت دقوانینونقض دی، هره ټولنه کي چي دتولید پروسایلو ټولنیز حکمیت برلاسی وي هلته به دتاو تریخوالي پیښي یا نه وي!! او یا خوبه ډیري لږ وي ، نو ځکه نوموړی شومه پدیده طبقاتي دریځ لري او دطبعت دقوانینو خلاف عمل دی.زه دخپلو هیوادوالو څخه غواړم چي زموږ په ټولنه کي ټولنیز عدالت بر قراره کي او زموږ مترقي ولسونه دهر ډول خرفاتو په مقابل کي سره یو موټی سي او ددې هیواد دغه ستونزي ( هر ډول تاوتریخوالي ) ته دپای ټکی کښیږدي .

ننګیال بڅر کی